مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۳/۰۲

# د پاکستان برید

چې پرخاوره دافغان بریدپاکستان کړ
دښمنانو د دې خاورې ځان عیان کړ

د تعصب پردو یې سترګې ړندې کړې
عصبیت پرې د دښمن سره پیمان کړ

د بادار ژوبلې اومرګ دې پریشان کړې
ځو لاسپوڅو په هر لوري شور فغان کړ

چې پرې ناز یې کړهغه نن په ګونډو دې
په ښکاره حب محبت ورور دشیطان کړ

د دښمن ماته یې نه لورې پر قوم خپل
خاک فروشانو د وطن ځان نمایان کړ

دافغان تر شاه ځلمو دې جهان جار سي
چې یې رنګ مورچل په وینو دخپل ځان کړ

د نومیر شمله افغان ځلمو کړه هسکه
خوار ذلیل چې یې دښمن دټول افغان کړ

فبرري - ۲۶- ۲۰۲۶
متحده ایالات - جنوبي کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ